# دبهلول نصیحتونه



(c) ketabton.com: The Digital Library



# چی په ماشومتوب کی یی له کتاب او قلم سره اشنا کړم.

***س.ا.هاشمي***

## دخلیفه بخشش

دوخت خلیفه هارون الرشید یو اندازه پیسی یی بهلول ته ورکړی ،چی دبغداد دښار په غریبو او مستحقو خلکو باندی یی تقسیم کړي.
بهلول پیسی واخیستی اودفکرکولو وروسته یی بیرته خلیفه ته ورکړی.
هارون الرشید ددی عمل دعلت پوښتنه وکړه؟
بهلول په ځواب کی ورته وویل:هرڅومره فکرچی می وکړ،له تا څخه می

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل څوک محتاجه او فقیر پیدانکړ،هماغه وو چی پیسی می بیرته تاته درکړی ،ځکه زه هره ورّځ ستا مامورین او ګرځیدونکی په دوکانونو کی ګورم ، لرګی او قمچینی په لاس ددوکاندارانو نه باج اخلی او دغه پیسی ستا خزانی ته راځی .

## خلیفه ته د بهلول نصیحت

بهلول دخلافت دربار ته لاړ اودهارون الرشید خوا کی کیناست.
هارون غوښتنه وکړه او ویی ویل:بهلوله نصیحت راته وکړه؟
بهلول:ای هارونه که په یوبیابان کی اوبه نه وی اوپه تا باندی تنده غلبه وکړی او مرګ حال شي، ته به څه کوی ، چی تنده دی ماته او له مرګه بچ شی ؟
هارون:دطلا سل دیناره ورکووم .
بهلول:که چیری داوبو خاوند دینار وانه خلی ،بیا څه کوی؟
هارون:نیمه بادشاهی ورکووم؟
بهلول:کله چی اوبه وڅښی او خخالی ادرار دی بند شي بیا څه کوی؟
هارون: نیمه نوره باد شاهی ورکووم؟
بهلول په ځواب کی وویل:نوبیا ولی ته په خپله بادشاهۍ دومره مغروره یی چی دهغه بادشاهۍ قیمت یو خیته اوبه او یو وار ادرار کول دی.
زه ستا نه پوښتنه کووم**!**ایا الله تعالی به تانه دخپلو نعمتونو پوښتنه ونه کړی ،چی ته یی شکر نه وباسی؟

## دهارون الرشید قیمت

هارون او بهلو حمام ته لاړل ،خلیفه په توکو کی بهلول ته وویل:که که چیری زه ستا غلام وای، نو څومره قیمت به می درلود؟
بهلول:پنځوس دیناره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه په قهر شو، ویی ویل :ای لیونیه!کوم لنګ چی ما ځان پوری تړلی دی،ددی قیمت پنځوس دیناره دی ،زما قیمت څو کیږی؟

بهلول:مایوازی دلنګ قیمت درته ویلی،شخصا ته هیڅ قیمت نلری.

**دبهلول پور اخیستل**

دبهلول سل دینارو ته ضرورت و، تصمیم یی ونیوچی خپل بډای ملګری نه پور واخلی .

دخپل ملګری کور ته لاړ او ویی ویل : غواړم سل دیناره پور راکړئ.

ملګری یی وویل:زه دپنځوسو دینارو نه زیاتی پیسی نلرم.

بهلول وویل:زه پدی کی څه نه وایم ،زه پوهیږم چی تاسوبډای هستئ ، فعلا پنځوس دیناره راکړه ،نوری پنځوس دیناره به وروسته راکړئ .

**دبهلول پیاده ګرځیدل**

ورځو کی یوه ورځ بهلول پیاده دسرک نه تیریده، دبغداد دښار قاضي هغه ولید،پوښتنه یی تری وکړه:بهلوله خر دی مردار شوی ، چی یوازی او پیاده ګرځی؟

بهلول وویل:زما خر مرداریدل اړین ندی، زه امیدوار یم چی ته ژوندی اوسیږی ، ستا یوتار ویښته زما دخره پشان دسلو خرو سره برابره ده.

**څوک ناپوه دی؟**

عباسي خلیفه هارون الرشید په یو مجلس کی دملک لوړ رتبه کسانو سره ناست وو،غوښتل یی چی بهلول مسخره کړي.

بهلول نه یی پوښتنه وکړه:ایا دځان نه به دی ناپوه انسان په دنیا کی لیدلی وی؟

بهلول فورا په ځواب کی وویل:نه،اشاره یی وکړه هارون الرشید ته او ویی ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اول ځل دی چی د خپل ځان نه ناپوه وینم او هغه هم ته یی.

**اقرار**

یو کس قاضی ته لاړ او دبهلول نه یی شکایت وکړاو ویی ویل:بهلول زما کمیس غلا کړی .

قاضی بهلول راغوښت او پوښتنه یی تری وکړه:تا دغه کس کله لیدلی دی؟

بهلول وویل :نه!

قاضی په قهر شو،بیا یی وویل : سبا پوری وخت لری،ریښتیا به وایی. سبا ته دواړه محکمی ته ولاړل ، قاضی بیا پوښتنه وکړه:بهلوله دغه کس دی کله لیدلی دی؟

بهلول فورا ځواب ورکړ:هو

قاضی ډیر خوشحاله شو ،چی دبهلول نه یی اقرار واخیست ،بیا یی وویل: کله او چرته دی دغه کس لیدلی و؟

بهلول وویل:پرون می دلته ستا پر وړاندی لیدلی وو.

**ناپوه حاکم او بهلول**

خلیفه هارون الرشید یو لوړ پوړی استازی یو ولایت ته ولیږه، دخلکو ستونزی معلومی او حل کړی .

حاکم وویل :ای خلکو!شکر ګذاري وکړئ،چی هارون په شان عادل خلیفه لرئ او دعدالت ساری یی نه لیدل کیږی اوستاسو په خدمت کی دی ،داسی ډیری مدحیه خبری یی دخلیفه پشان کی وکړی او خپل صفت یی هم وکړ.

کله چی د ممبر نه ښکته شو،ناګهانه بهلول په ممبر باندی ودرید اوخلکو ته یی خبری شروع کړی : ای خلکو! هغه څه چی حاکم صیب وویل ، ټول صحیح او ریښتیا وی ، ځکه چی زه دغه حاکم ډیر ښه او په پوره معنا پیژنم ، ددی حاکم ډیر قدر او عزت وکړئ او هر څه چی وایی ریشتیا وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبهلول خبری چی خلاصی شوی ، دممبر نه کوز شو او خپل کار پسی روان شو.

په دغه وخت کی حاکم د بهلول پسی روان شو او دهغه نه یی وپوښتل: ای غریب سړیه!ته څوک یی چی ماسره دی دومره همدردي وکړه او زما صفت دی وکړ؟

بهلول وویل:راز به زما او ستا تر منځ وي او چاته به یی نه وي،تا د خلکو په سترګو کی خاوری واچولی او هغوی نه دی خره جوړ کړه او ما ستا په سترګو کی خاوری واچولی او ماتانه خر جوړ کړ.

**دهارون الرشید عدالت**

یوه ورځ بهلول په جګ اواز چغی وهلی او ویلی یی : هارون الرشید با انصافه او عادل خلیفه ده،ټول خلک دبهلول دی خبرو ته په تعجب کی شول.

خلکو پوښتنه وکړه : په کوم دلیل ته وایی ، چی خلیفه عادل او با انصافه دی.

بهلول په ځواب کی وویل :پرون شپه دهارون الرشید سره یوځای وم. خپله یی راته وویل ،چی زه عادل او باانصافه یم، داد هغه خبری دي، نه زما.

**دبهلول له نظره دار المجانین**

دهارون الرشید د دربار‌دخاصو کسانو نه یو کس په کوسه کی تیریده او ناڅاپه دبهلول سره اوږه په اوږه ولګیده. هغه کس دډیر شدت نه په ځمکه ، ولویداو په ډیری غوسی او قهر سره یی بهلول ته وویل:ای احمقه!ایا پوهیږی چی زه څوک یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهلول په ځواب کی وویل:هو!پوهیږم چی څوک یی؟څو څو ځله می لیدلی یی.

هغه کس وویل چیرته دی لیدلی یم.

بهلول وویل:دارالمجانین(دلیونیانو روغتون) کی می لیدلی یی.

کس چغه کړه:ځکه می وویل،چی په دارالمجانین کی می لیدلی یی ،د هارون الرشید دربار د دارالمجانین سره یو شان دی.

**زړه ښځه او ځوانه ښځه**

بهلول نه چا پوښتنه وکړه،ولی ښځه نکوی؟

بهلول وویل:زړه ښځه می نه خوښیږي.

بهلول ته یی ویل:ځوانه ښځه وکړه؟

بهلول وویل:دځوانی ښځی زه نه خوښیږم.

**بهلول او کالی یی**

بهلول ته چا وویل: کالی دی چټل شوي، ولی یی نه وینځی؟

بهلول وویل : بیا چټلیږی .

بیا یی ورته وویل:دویم ځل یی ووینځه؟

بهلول وویل:څه فکر کوی، زه دی دنیا ته یوازی دکالو وینځلو لپاره راغلی یم،نور به څه نه کووم.

**دشیطان لیدل**

یو بد اخلاقه انسان ، دبهلول نه پوښتنه وکړه:ډیره هیله لرم، چی شیطان ووینم؟

بهلول په ځواب کی وویل: که اینه په کور کی نلری. په اوبو کی دی قواره وګوره،شیطان درته ښکاری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خلیفه غذا

یوه ورځ هاورن الرشید د بهلول نه یوه پوښتنه کړه: څه موده کیږي چې هره غذا خورم خو نه هضمیږي، بهلوله څه وکړم؟

بهلول وویل:ددی مریضی هیڅ چاره نشته ، غیرله دی نه چی نور هضم شوی ډودئ وخوری.

## ناپوه وزیر او بهلول

یوه ورځ د هارون الرشیددربار یو وزیر بهلول ته وویل: خبر یی چی هارون ته دسپیانواوخوړانو مشر مقرر کړی یی؟ایا دادنده دی خوښه ده؟

بهلول په ځواب کی وویل:پس ددی خبردار چی یو قدم زما بی اجازی بیرون کینږدی،ځکه چی ستاسو مشري نوره زما په غاړه ده.

دوزیر ټولو ملګرو وخندل او وزیرهم دخپلی خبری په کولو پښیمانه شو اونور یی هیڅ ونه ویل.

## دبوټآنو سره لمونځ

یوه ورځ بهلول نوی بوټان اخیستی وو، جومات ته لاړ چی لمونځ وکړي، په جومات کی یو کس دده بوټانو ته ډیر، زیر زیر کتل.

بهلول فورا پوه شو ، چی سړی غواړی دده بوټان غلا کړی، هماغه و، چی دبوټانو سره یی لمونځ وکړ، چی لمونځ یی خلاص شو، هغه کس یی خواته راغی او ویی ویل:دبوټانو سره لمونځ نه کیږي.

که لمونځ ونشو بوټان خو می شته.

## دبهلول ژړا

یوه ورځ بهلول دهارون الرشد دربار ته ولاړاو دخلافت پر څوکۍ کیناست . ددربار ساتونکو چی بهلول ولید ، دلرګی په وهلو یی دتخت نه لاندی وغورځاوه . په دغه وخت کی بهلول ژاړي ، هارون الرشید

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسيد او پوښتنه يې وکړه:څه خبره ده؟

ددربار ساتونکو ټوله کيسه هارون ته وکړه، هارون درباريان ملامته کړه او دبهلول نه يې بښنه وغوښته.

بهلول وويل:زه ستا په حال ژاړم،ځکه چې زه څو دقيقې ستا پر ځای ناست وم،دا حال مې وليد ، افسوس ستا پر حال چې ټول عمرپر دې څوکۍ ناست يې او عاقبت فکر نه کوې ، زه حيران يم چې په تا به څه حال راځي.

**دبهلول له خپل ملګرې سره خبرې**

يو کس ډېره پخوانۍ ملګرتيا د بهلول سره درلوده، په ورځو کې يوه ورځ غنم چې يې ژرندې ته يوړل،چې وړه وکړي.

کله چې يې وړه وکړه،په خپل خره سپور شو او دبهلول کور ته ورسيد. تصادفا پدې وخت کې يې خر په ځمکه ولويد او ګوډ شو.

هغه کس چې ډېره پخوانۍ ملګرتيا يې له بهلول سره درلوده،دبهلول ته يې په جګ اواز غږ کړ او ورنه يې غوښتنه وکړه، خر دې دامانت په ډول راکړه، چې خپل بار کور ته ورسوم.

بهلول قسم کړی وو،چې خپل خر به هيچاته هم نه ورکوي، خپل ملګري ته يې وويل : زما خر کور کې نشته.

په دغه وخت کې دبهلول خر په چغو شروع وکړه او هيڅ نه غلی کيده. ملګري يې بهلول ته وويل :ولې درواغ ووايې ، خر خو دې په کور کې دی بهلول فوراً ځواب ورکړ:ته خو ډېر ناپوهه يې ! پنځوس کاله کيږي، ته زما زما پرخبره باور نکوي اړ دخره په غږ باور کوي.

**دچرګې هګۍ**

نيمه شپه شوه دبهلول ګاونډي دروازه ووهله او دچرګانو هګۍ يې پور

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتی.

بهلول کور ته لاړ او څو هګۍ یی خپل ګاونډي ته ورکړی.

ګاونډي یی وویل:بهلوله! ما غوښتل چی داسی هګۍ راکړی، چی چرګانو دورځی اچولی وي.

بهلول په ځواب کی وویل : زموږ چرګان ټولی هګۍ دورځی اچوي اود شپی لخوا حوب کوي.

**فقیرانو ته دبهلول لارښوونه**

یو فقیر بهلول ته وویل : دپیسو نه علاوه په دنیا کی هیڅ کار نه کیږي.

بهلول په ځواب کی وویل: ډیر داسی کارونه شته ، چی بغیر دپیسو نه ، کیږي،

فقیر وویل : مثلا کوم کارونه؟

بهلول وویل:پور کول ، خوړل او ویده کیدل.

**بهلول شعار ورکاوه**

ورځو کی یوه ورځ بهلول په ښار کی ودرید، په جګ اواز یی چغی وهلی او خلک ورنه راټول شول.

ای خلکو! لیونی بهلول غواړي چی نن تاسو ته یوه مهمه خبره وکړي، زما خبری ته غوږ ونیسی.ډیر خلک له بهلول نه راټول شول او چوپ شول، چی بهلول به څه وایی؟

بهلول وویل:تاسو ټولو نه یوه پښتنه کووم ،ځواب به یی راکوی،ولی د یو لیونـي په اواز او غږ ټول راټول شوی، سره ددی که چیری په زرهاوو پوهان تاسو سره خبری وکړي، غوږ ورته نه نیسی او متفرق کیږی.

**بهلول د خوب تعبیر کوي**

یو کس بهلول ته لاړ او ویی ویل: دشپی له خوا خوب وینم ، سهار می

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیروي.

بهلول دخوب لیدونکي نه پوښتنه وکړه: سترګی خو به دی ضعیفه نه وي؟

هغه کس وویل : هو ضعیفه دي.

بهلول وویل: وروسته له دی چی ویده کیدی، عینکی په سترګو کوه، چی د شپی خوب ووینی او سهار دی هیر نشي.

## دناروغ پوښتنه

یوه ورځ بهلول د ناروغ پوښتنی ته لاړ ، کله چی یی ناروغ ولید، فوراً یی وویل : مورده شوی حاضر کړئ چی ناروغ ووینځي.

د ناروغ پوښتنه کوونکیو له بهلول څخه پوښتنه وکړه: ناروغ خو تر اوسه پوری ژوندی دی.

بهلول په ځواب کی وویل: چی مرده شوی راځي او خپل کار شروع کوي، دابه مړ شي.

## دبهلول خبری خپلی لور سره

یوه ورځ بهلول او وړه لور یی په کوڅه کی روان وو، چی ناڅاپه یی یوه جنازه ولیده، چی دقبرستان په طرف روانه وه.

دبهلول وړی لور تر اوسه داسی صحنه نه وه لیدلی ، د بهلول نه یی وپوښتل:پلار جانه! دا څوک دی او چیرته یی وړي؟

بهلول دخپلی لور په ځواب کی وویل: دا کس مړشوی دی او داسی ځای ته یی وړي، چی هلته فرش، چراغ ، ډوډئ او اوبه نشته.

لور یی وویل: پلار جانه! حتمأ یی زموږ کور ته وړي.

## دختیکي کرل

یوه ورځ بهلول د خلیفه خواته لاړ او په خلیفه یی رشخند وهلو او یی ویل:زه ولي یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه په ځواب کی وویل: ولیان خو معجزی لري.

بهلول وویل: هو ! زه هم معجزه لرم.

خلیفه وویل: دخټکي تخم واخله او زما مخکی یی وکره او باید دستي شین شي او خټکي ورکړي، څو هغه خټکي دواړه وخورو.

بهلول وویل: ښاغلی خلیفه ! څلور ورځی وخت راکړه.

خلیفه وویل: هیڅ وخت نه درکووم.

بهلول وویل: ای بی انصافه ! کله چی خټکی وکرلی شي، الله جل جلاله مکمل څلور میاشتی وروسته هغه پخوي او زه چی دهغه بنده یم، ماته څلور ورځي وخت نه راکوی.

## لمونځ دی ووایه

یو مجلس کی ډیر ادیبان راټول شوي وو، بهلول هم هلته موجود وو.

د ټول مجلس ګډون کوونکو شاعر ته وویل : چی خپل نوی او تازه شعر واوروي.

د ډیر تآکید نه وروسته ، شاعر وویل : نه پوهیږم چی کوم شعر تاسو ته ووایم.

بهلول فورآ وویل: وروره لمونځ دی ووایه چی دهر څه نه بهتره دی او ثواب پری حاصلیږی.

## وزیر یی پخپل ګار وګوماره

بهلول په کوڅه کی تیریده، ډیر خلک په کوڅه کی ولاړ وو.

یو خر دکوڅی په منځ کی ولاړ وو لاره یی بنده کړی وه. په دغه وخت کی بهلول د وخت وزیر ولید، چی دخلکو په منځ کی ولاړ دی، نږدی شو او غوږ کی یی ورته وویل: وزیر صیب ته کولای شي چی لاره خلاصه کړی

وزیر وویل: څنګه کولای شم چی لاره خلاصه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهلول په ځواب کی وویل : ته لاړ شه او خر تهووایه چی په ځمکه ویده شي اویا ورته ووایه ، چی ستا ځای ته لاړ شي او ته ددی پر ځای ودرېږه لاره لاره به خلاصه شي.

**بهلول او دپیغبرئ دعوه کوونکی**

یوه ورځ بهلول دهارون الرشید سره په مجلس کی موجود وو، یو کس یی راوړه چی دپیغمبرئ دعوه یی کوله ، خلیفه ورنه پوښتنه وکړه: دپیغمبرئ معجزه لری.

ویی ویل : هو!

یو شمیر نوکران او کارکوونکي چی ډیر ښکلي ځوانان وو، دمجلس د خدمت لپاره ولاړ وو، هغه ته یی اشاره وکړه او ویی ویل : که چیری ریښتیا وایی، دغه ښکلي ځوانان چی ږیره نلري ، ږیره ورته پیدا کړه

دپیغمبرئ دعوه کوونکي وویل : حیف دی چی د دوی پر مخ ږیره پیدا کړم ، که چیری غواړی همدا اوس هغه څوک چی ږیره لري، بی ږیر ی کولای شم.

**دبهلول ناروغتیا**

یوه ورځ بهلول ډاکتر ته لاړ ، ویی ویل: ځه وخت کیږی چی ناروغي راته پیدا شوی ده او هر شی راته چپه معلومیږي.

ډاکتر د فکر کولو وروسته پوښتنه وکړه: امکان لري چی نور وضاحت راکړی او ما پوه کړی ؟

بهلول:مثلاً اور یخ احساسوم ، شپه راته ورځ ښکاري او ته چی ډاکتر یی راته جلاد او ادم کش خکاري.

**سپک عقل او درووند خوب**

یو کس د بهلول نه پوښتنه وکړه: ولی دځینو خلکو خوبونه درانده وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهلول وویل: ځکه چی دهغوی عقل سپک وي.

## ناروغ ته دعا

دبهلول یو بډای ملګری ناروغ وو او مرګ حال ته رسیدلی وو، چغی یی وهلی.

بهلول ورته حاضر شو، ناروغ داسی وویل: بهلوله ! نه پوهیږم چی شپه به څنګه سبا شي؟

بهلول وویل: ډاډه اوسه، چی تر سبا پوری نه پاتی کیږی.

## لوی محبت

دیو کلیوال خر مړ شوی و، کلیوال او زامن یی ډیر خپه او یو کونج کی غلي ناست و.

خلکو بهلول ته وویل او غوښتنه یی تری وکړه چی کلیوال او زامنو ته ییووایی چی نور غم ونکړي.

بهلول دکلیوال خواته لاړ او ویی ویل : ګرانه! ته دی سلامت او روغ اوسیږي، ته دیو خر پر ځای ډیر زامن لري. چی هر یو یی په سلو خرو ارزي، بی ځایه فکر او غم مکوه، له خدای پاک نه وغواړه چی وروسته خیر پیښ کړي.

## بهلول خپل خر خرڅوي

بهلول خپل خر د خرڅون لپاره دمال منډیی ته بوته ، چی خپل خر خرڅ کړي. یو اخیستونکی راغی او دبهلول نه یی د بیی پوښتنه وکړه.

بهلول وویل:دخره بیه سل دیناره ده.

اخیستونکی له فکر کولو وروسته وویل: زه دغه خر په پنځوسو دینارو اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بهلول په ځواب کی وویل: نو زه بیا نیم خر نور په چا خرص کړم؟

**ارزانه بیه**

بهلول یو کس د میلمستیا لپاره خپل کور ته دعوت کړ، ډوډی تیاره شوه او دستر خوان اوار شو ، چی د ماښام ډوډۍ وخوري.

د ډوډۍ دخوړلو په جریان کی دبهلول ځوی میخ او ستک واخیست او په دیوال کی یی میخ په زوره زوره ټک واهه.

د میلمه اعصاب خراب شو او ویی ویل: ګرانه بهلوله! دغه کار ښه کار نه دی.

بهلول وویل:میخونه مو په لیلام کی اخیستی دي، په ډیره ارزانه بیه ، نو ځکه یی په دیوال کی ټک وهي.

**بهانه**

دبهلول ملګری اسپ دامانت په ډول وغوښت.

بهلول ورته وویل:زما اسپ تور رنګ لري.

ملګري یی وویل: داسپ دسورلۍ لپاره تور او سپین رنګ کوم توپیر نه کوي.

بهلول وویل :زه نه غواړم چی اس درکړم، نو دا ښه بهانه

**دبهلول غوسه ناکه ښځه**

بهلول ځو ښځی درلودی، چی یوه یی ډیره بد اخلاقه وه، دغه ښځه یی دسفر په نیت له کوره تللی وه، بهلول ډیر خوشحاله و چی ښځه یی په کور کی نشته.

یوه ورځ بهلول خپل کور ته لاړ، چا بهلول ته خبر راوړ چی ښځه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته راغله.

بهلول دډیری غوسی نه وویل : کاشکی چی کور ورباندی وغورځیدی دا به ډیره خه وي.

**دبهلول حاضر ځوابي**

یوه ورځ بهلول دهارون الرشید دربار ته لاړ او دخلیفه تر څنګ کیناست.

هارون دبهلول ددی کار نه خپه شو او وغوښتل یی چی هغه دخلکو په مخ کی سپک کړي.

هارون سوال وکړ : ای بهلوله**!** حاضریی چی زما سوال ته ځواب راکړی اوکه نه؟

بهلول که چیری دشرط په ډول وي حاضر یم.

هارون:که چیری زما دسوال ځواب دی راکړ،سل زره دیناره زر درکوم اوکه چیری ځواب دی رانکړ،نو امر کوم چی ستا ږیره او بریت کل کړي او په خره دی سپور کړي، بیا دی د بغداد په ښار کی وګرځوي. دا شرط منی؟**!**

بهلول: ستا دسوال ځواب زه ویلای شم ،خو زه یو شرط لرم، هغه دا چی ته امر وکړه، مچانو ته چی نور می په تکلیف نه کړي.

هارون داکار امکان نلري او زما په طاقت کی نده، ځکه چی مچان زما د امر تابع نه دي.

بهلول:هغه څوک چی دمچانو پر وړاندی ضعیف او ناتوانه وي، دهغه نه به څه توقع وکړو.

د مجلس حاضرین دبهلول عقل ته حیران پاتی شو، هارون هم دبهلول ځواب ته پاتی راغی او میدان یی پریښود، بهلول پوه شو چی هارون الرشید

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مجلس کی کم راغی او خپه شو.

دهغه دخوشحالی لپاره یی هارون ته وویل:اوس حاضر یم ،چی له شرطه پرته ستا د پوتښتنی ځواب درکړم.

هارون وویل:هغه کومه ونه ده ،چی یو کال عمر لري،دولس ښاښونه لري، هر ښاخ یی دیرش پاڼی لري ، یو مخ رڼا او بل مخ یی تیاره وي؟

بهلول وویل:دغه ونه په حقیقت کی ، کال ، میاشتی، ورځ او شپه ده.

هارون وویل:ډیر ښه! او ټولو حاضرینو هم په بهلول افرین ووایه.

## د بهلول نصیحت هارون ته

هارون الرشید په لاره تیریده ، ګوري چی بهلول په لرګي سپور دی او له ماشومانو سره لوبی کوی.

هارون بهلول ته اواز وکړ، بهلول مخکی لاړه او ویی ویل :څه غواړی؟

هارون وویل : زه غواړم چی ماته نصیحت وکړی؟

بهلول: تیرو خلفاؤ قصرونه او کورونه درلودل،

او اوس تورو خاورو کی پراته دی ،هغوی په دنیا کی عیش او عشرت کاوه او اوس په خاورو کی پراته دي او د خپلو تیرو اعمالو پر کولو افسوس کوي، موږ به هم ددوی په شان یوه ورځ په خاورو کی پراته یو او افسوس به کوو.

هارون د بهلول له خبرو نه ډیر متأثره شو او د بهلول نه یی پوښتنه وکړه څه وکړم، چی الله تعالی رانه راضي شي؟

بهلول :داسی عمل وکړه چی الله تعالی درنه راضي شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هارون :څه عمل وکړم ، چی الله تعالی رانه راضي شي؟

بهلول:عدل اوانصاف دی دنده وګرځوه ، څه چی د ځان لپاره خوښوی، نورو ته یی هم خوښوه، دغریبانو فریاد اوره او په عدل او انصاف رفتار کوه.

هارون :ای بهلوله! د نصیحت نه دی مننه، غواړم چی ستا پور ورکړم.

بهلول: نه غواړم چی زما د نصیحت په بدله کی زما قرضونه ورکړی. غواړم چی دخلکو خدمت وکړی او څه امکانات چی درسره موجود دي دخلکو حاجتونه پری پوره کړه، پر ما خپل منت مه باروه.

هارون : نور څه غواړی راته ووایه !

بهلول: زه غواړم چی زما پر نصیحتونو عمل وکړی، ولی افسوس چی مقام، جاه او جلال ستا زړه کلک کړی او نه شی کولای چی زما په نصیحتونو عمل وکړې.

## دهارون الرشيد پوښتنه

هارون الرشید دعباسیانو یو مقتدر خلیفه و، ورځو کی یوه ورځ ډیر خوشحاله ددجلی سیند پر غاړه د خپلو ملګرو سره ناست و، چی بهلول راغی.

هارون په خندا کی وویل :پخیر راغلی او نن یوه پوښتنه درنه کووم، که ځواب دی راکړو، زردینار سره زر درکووم او که ځواب دی رانه کړ، امر کووم چی ددجلی په سیند کی دی واچوي.

بهلول وویل :ښاغلی هارونه زه زرو ته محتاج نه یم، خو که ستا سوال ته می ځواب ورکړ، نو خپل شرط لرم، هغه دا چی سل کسه زندانیان ملګری به

(c) ketabton.com: The Digital Library



می له بند نه خلاصوی او که ځواب می ورنکړو، نو ما د د جلی په سیند کی واچوی ، چی غرق شم.

هارون الرشید دبهلول شرط قبول کړ او داسی پوښتنه یی وکړه: که چیری پسه ، لیوه او یوه ګیډئ دښو ولرو ، څنګه کولای شو چی دغه دری واړه یو یو دسیند یوی لوری نه بل لوری ته بوزو ، چی نه پسه واښه اوخوري او نه لیوه پسه وخوري.

بهلول وویل: اول پسه د سیند غاړی ته وړو ،بیا واښه وړو اود ځانه سره پسه بیرته راوړو، بیا لیوه د سیند غاړی ته وړو او دریم ځل بیا پسه له ځانه سره وړو په دی ترتیب نه پسه واښه خوړلی او نه لیوه پسه.

هارون وویل: ډیرښه، ډیر ښه.

بهلول دشرط مطابق دسلو کسانو نومونه ولیکل او دهارون الرشید ته یی ورکړل.دغه سل کسان دهارون الرشید سخت دښمنان وو او بهلول غوښتل چی له بند نه خلاص شي.

هارون چی دغه سل کسان ولیدل ، خپلی ژبی نه تیر شو او نه یی غوښتل چی دغه سل کسان بند نه خلاص شي .

دبهلول د ډیر تاکید او ډیری غوښتنی نه وروسته هارون حاضر شو، چی دسلو پر ځای یوازی لس کسه له هغوی ازاد کړي.

**ګټور تجارت**

یوه ورځ دبغدتد د خار تجار بهلول ولید اوپوښتنه یی تری وکړه:

ګرانه بهلوله! څه شی واخلم چی ډیره ګټه پکی وکړم؟

بهلول :اوسپنه او پنبه واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تجار اوسپنه او پنبه واخیسته او دڅو ورځو وروسته یی ډیره ګټه لاسه راوړه.

تجار دویم ځل بیا راغی او بهلول ته یی وویل :لیونیه! څه شی واخلم چی ډیره ګټه پکی وکړم؟

بهلول: پیاز او هندوانی.

تجار پیاز او هنوانی واخیستی او دڅو ورځو وروسته یی ټولی هندوانی اوپیاز ګنده شو، تجار مجبور شو او ټول مال یی په سیند کی واچاوه،دیر تاوان ورته ورسیده.

تجار فوراً بهلول ته ولاړ او ویی ویل: بهلوله! څه ډول مشوره دی راکړی وه؟

بهلول وویل: اول ځل دی د هوښیارانو په ډول راسره مشوره وکړه او ما هم عاقلانه مشوره درکړه. دویم ځل دی ماته دلیونی خطاب وکړ ما هم د لیونیانو په ډول مشوره درکړه.

## بهلول او دفقی عالم

یو مشهور عالم بغداد ته راغی ،هارون عالم یی خپل دربار ته دعوت کړ.

ها رون الرشید دعالم ډیر قدر او عزت وکړ، په عین وخت کی بهلول دربار ته راغی ،هارون د کیناستو امر وکړ،هارون چی دبهلول لباس ولید هارون ته یی وویل: ستا دمینی او محبت نه باید نور خلیفه ګان پند واخلي، ته د غریبو او مسکینانو سره ډیره مینه کوی او ورته وخت ورکوی ،چی تا ووینی .

بهلول پوه شو دعالم قصد زه یم، نو ویی ویل: په خپل ناقص علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره مه غره کیږه او زما ظاهر مه ګوره، زه حاضر چی دعلم په هره ساحه کی له تاسره مباحثه وکړم او خلیفه ته ثابت کړم، چی ته په هیڅ نه پوهیږی.

عالم وویل: اوریدلی می دی ته لیونی یی ، زما له لیونو سره هیڅ کار نشته.

بهلول وویل: زه پخپل لیونتوب اقرار کووم، ولی ته پخپلی نادانی اقرار نکوی.

هارون وویل: نوری خبری مکوه.

خو بهلول چوپ نشو او هارون ته یی وویل: دا بی علمه عالم پخپل علم مغروره دی، زه غواړم له ده سره مباحثه وکړم.

هارون علم ته وویل: کولای شی د بهلول پوښتنه وکړی؟

عالم وویل : زما یو شرط دی هغه دا چی زه یوه پوښتنه د بهلول نه کوم، که ځواب یی راکړ ، نو زه ورته زر دیناره ورکووم او که ځواب یی رانه کړ ، نو دا به راته زر دیناره راکوي.

بهلول وویل: زه زر دیناره نه لرم،که ماشرط وګټه زر دیناره اخلم او په فقیرانو یی تقسیموم او که ځواب می ورنکړ ، زه ستا په خدمت کی یم چی په هر قیمت می خرڅوی،یا تر اخره یا تر اخره عمره درسره کار کووم.

عالم قبول کړه او داسی پوښتنه یی د بهلول نه وکړه : په کور کی ښځه اومیړه ناست وو، همدی کور کی یو کس لمونځ کوي او بل روژه دار دی ، په عین وخت کی بل کس همدی کور ته داخلیږی او ددغه شخص په داخلیدو هغه میړه او ښځه چی په کور کی وو، یو بل ته حراميږي اوهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس چی لمونځ کوی ، لمونځ یی باطلیږي. کولای شی چی ووایی چی دا کس، څوک دی؟

بهلول په ځواب کی ورته وایی : هغه کس چی کور ته داخل شو، دښځی پخوانی میړه و، په یو اوږد سفر تللی وو او داسی احوال یی راغلی و، چی سړی مړ شوی دی.

دغی ښځی دحاکم په اجازه په شرعي نکاح سره دهغه کس سره چی کور کی و، نکاح کړی وه.

او دوو کسانو ته یی پیسی ورکړی وی ، چی یو لمونځ وکړي او بل روژه ونیسی، دخپل میړه دمرګ په خاطر ، د ښځی لومړنی میړه یی په سفر تللی و ، دسفر نه بیرته راځي ، هغه دویم میړه ، پر ښځی حرامیږی او هغه کس چی دښځی دورک شوي میړه لپاره لمونځ کوی هغه هم باطلیږي او هغه بل چی روژه نیسی هغه هم باطلیږي.

هارون او د هغه ملګري خوشحالیږی او په بهلول افرین وایی.

بهلول د عالم نه پوښتنه کوي: که چیری په یو دیګ کی شیره وی او بل دیګ کی سرکه وي او وغواړو چی دواړه سره یو ځای کړو،یو اندازه شیره د یو اندازه سرکی سره په بل دیګ کی واچوو، دیو ځای کولو وروسته چی متوجه شو په دیګ کی موږک وي، ایا ویلای شئ چی دغه موږک په شیره کی وو که په سرکه کی و؟

عالم د ځواب ورکولو نه عاجز شو.

هارون دبهلول نه وغوښتل، چی دسوال ځواب ووایی.

بهلول وویل : که چیری دغه عالم خپله ناپوهی قبوله کړي، زه دسوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب وایم.

عالم پخپله ناپوهۍ اعتراف وکړ .

بهلول وویل: اول باید موږک جک کړو او وبو کی یی وویځو ، کله چی دموږک په ګیډه کی شیره وي، نو دشیری له دیګه دا موږک لویدلی دی او که سرکه یی یی په ګیډه کی وي، نو دسرکی له دیګه لویدلی دی. عالم سرټیټ واچوه او زر دیناره سره زر یی بهلول ته ورکړل او دبغداد دښار په ِغریبو خلکو یی تقسیم کړل.

## سید ادریس عادل

ددویمی برخی لپاره په کتابونه او نالونه ګروپ کی غوښتنه وکړئ



Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library